## د بایوټینډېز کمښت

دا یوه میراثي ناروغي دهکه

درملنه یې ونشي، د اوریدلو، عصبي ستونزو او حتی د مرګ لامل کیدی شیدرملنه اسانه او مؤثره ده

## سیستېیک فایبرروسس

دا یوه جنیټکي ناروغي ده چې په عمده توګه د سږو او هاضمي سیسټم اغیزمن کوي

تر ټولو عام شکایتونه؛ د سږو مکرر انتانات، ډیر غوړ او بد بوی لرونکی غایته مواد، د کافي وزن نه ترلاسه کول

دغه ناروغان؛ د ژر تشخیص، درملنې او رژیم سره، کولای شي روغ ژوند ولري.

## فینیلکیټونیوریا

دا یوه میراثي ناروغي ده. د اقاربیو تر منځ ودونه د ناروغی د پیښې ډیرولې لامل ګرځي په دي ناروغی کې، هغه ماده چې دماغ ته زیان رسوي (فینیلالین) نشي کولی له بدن څخه بهر شي او په بدن کې راټولیږي که ژر تشخیص او درملنه یې وشي، دماغي پړسوب نه رامنځته کیږي د دي ناروغی سره زیږیدلي ماشومان ځانګړي رژیم ته اړتیا لري

## هغه ناروغی چې د پونده د وینې په معاینه تشخیص کیږي







## د نخاعي عضلاتو ایټروفي

د نخاعي عضلاتو ایټروفي یوه میراثي او پرمختللې ناروغي ده

کله چې یې درملنه ونشي، د ورځنې حرکت محدودوي، او د وخت په تیریدو سره دا محدودیت زیاتیږي

په نخاع کې نیمګړتیاوي، تغذیه او تنفسي ستونزې ممکن رامنځته کیږي

د ماشومانو لپاره دا مهمه ده چې ژر تر ژره مناسب درملنه پیل کړي.

## د زیږون اډرینال هایپرپلاسیا

یو جدي جنیټیک ناروغي ده چې په هلکانو او انجونو کې د جنسي پراختیا لوی اختلالات رامنځته کوي

دمخه تشخیص نه کیدو په حال کې په ماشومتوب کې د جدي انتاناتو او اسهال سره په اخته کیدو سره د مړینې لامل کیږي

په وختي تشخیص سره، د ماشومانو د مړینې مخه نیول کیږي، او د لومړنې طبي/جراحي مداخلې سره، ستونزې د ودې څخه مخکې تداوي کیږي

## د زیږون هایپوتایرایډیزم

دا یوه زیږنده ناروغي ده. په دي ناروغی کې د تایرایډ غدې نشي کولی په کافي اندازه تایرایډ هورمون تولید کړي

که ژر ونه پیژندل شي، د دایمي ذهني سستی لامل کیږي. درملنه یې خورا اسانه او مؤثره ده

- مخکې لدې چې ستاسو ماشوم له روغتون څخه رخصت شي د پونده وينه يې بايد واخيستل شي.
- د وينې د څو څاڅکو په اخيستلو سره د ماشوم ناروغي تشخيص او په ماشوم کې د جدي او دايمي ستونزو مخه نيول کيدی شي.
- د زيږون څخه 3-5. ورځې وروسته تاسو بايد خپل د کورنۍ ډاکټر يا د مهاجرت نږدې روغتيايي مرکز ته عريضه وکړئ او ددې ورځو په مينځ کې د وينې نمونه بيا واخلئ.
- ستاسو د ماشوم لپاره د اس ام ای سکرينينګ کې يوازې د جينيټکي ناروغۍ ازموينې لپاره ځانګړې دي، او د کومې بلې ناروغۍ لپاره هيڅ جينيټکي تحليل نه ترسره کيږي.
- شخصي معلومات د دريمې ډلې اشخاصو او سازمانونو سره نه شريک کيږي.

که چيرې د سکرينينګ په پايله کې ستاسو په ماشوم کې د ناروغۍ شک شتون ولري، اړونده روغتيايي پرسونل به خامخا تاسو سره په تماس کې شي

ځينې ماشومان ممکن د سکين پايلو تصديق کولو لپاره د پښې وينه بيرته اخيستلو ته اړتيا ولري

دا ستاسو د ماشوم روغتيا لپاره خورا مهم دی چې د اړتيا په وخت کې په لومړيو وختونو کې د پښو وينه واخيستل شي



## زموږ راتلونکی ستاسو په لاس کې دی!

**زموږ په هيواد کې، د ټولو نويو زيږيدلو ماشومانو لپاره د ناروغيو لپاره وړيا سکرينينګ ازموينې ترسره کيږي چې د پوندې د وينې په اخيستلو سره مشخص کيدی شي.**

که د سکين په پايله کې د ناروغۍ شک وي، ستاسو ماشوم به؛ کيدای شي د نورو معايناتو، دقيق تشخيص او درملنې لپاره اړوندو کلينيکونو ته راجع شي. په دې حالت کې، تاسو بايد ژر تر ژره خپل ماشوم اړوند کلينيک ته ورسوئ او پرته له کوم ځنډ څخه يې تعقيب او درملنه وکړئ.

دا خپرونه د اروپايي ټولنې په مالي مرسته جوړه شوې ده. د دې محتويات يوازې او يوازې د ترکيې د جمهوريت د روغتيا وزارت مسؤليت دی او د اروپايي اتحاديې نظرونه نه منعکس کوي.

## مناسب ځای، ښه خدمت

د نورو معلوماتو او ملاتړ لپاره خپل نږدې د مهاجرو روغتيايي مرکز ته ورشئ.

sihhatproject www.sihhatproject.org

sıhhat

This project is funded by the European Union.
Bu proje Avrupa Birliği tarafından finanse edilmektedir.
هذا المشروع تم تمويله من قبل الاتحاد الأوروبي

# هر ماشوم د سالم ژوند د پيل حق لري



sıhhat